لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۰/۱۲/۲۰

# د تور باز فلم په اړه یو نقد لیک




د هند د بالیووډ سینما وتلي ډایرکټر او کیسه لیکونکی د ,, تور باز,, فلم کې د افغانانو د رواني ځلوېښت کلنې جنګ جګړو ژورو رواني ټپونو، ناتار او ناخولې ته په ځینو صحنو کې د هندي سینما په منطق، تخیل او له فنټزیو ډکو سټرګیو کې له حقیقته ډیر لیرې کتلي شوي دي. د هند د بالیووډ فلمونو ډایرکټران د داسي خورا حساسو پیچلو، تولنیزو او جګړیزو شخړو انځورولو ډیرې لږې منلي شوي نړیوالي تجربې او لاسته راوړنې لري. دوی په خپل دې سوداګریزه هنري فلم کې په خپل توان سره یوه هڅه کړې ده، څو د افغاني تولنې ژورو رواني ټپونو او د بې ګناه ماشومانو څخه د ناوړه ګټه اخیستلو یو مکس یا ګډ انځور د کرېکټ سپورټ د خوښېو او خوشالیو له څواک سره مل د سینما په پرده کې ننداړچیانو ته د ننداړې لپاره وړاندې کړي. د افغانستان د اوسنیو جګړیزو حالاتو په اړه د بالیووډ سینما ,, تور باز,, فلم د ژمنې سره سم د دسمبر په یوولسمه نیټه د هند په سینماګانو کې د بندیزنو له کبله په انټرنیټ کې د نېټفلکس له لارې په آنلاین بڼه کې خپور شو. د افغان سنجي ډټ تور باز فلم به خامخا د فلم ډیرو مینوالو لیدلي او کتلي وي.

وسمهال د هند بالیووډ سینما د ,, تور باز,, په نامه هنري فلم د افغانستان د اوږدې جګړې او خونړې غمیزې په اړه یو نوی فلم ننداړې ته وړاندې کړي. دا فلم څومره د کتونکو لخوا خوښ کړل شوي دی او څومره د افغان جګړه ځپلې پیچلې تولنې یو ریښتینې انځور د فلم په هنري ډیجیټالي ژبې کې ننداړې ته وړاندې کړل شوي دی. آیا دا فلم ښه نه دی، که موږ د سنجي ډټ څخه ډیرې نورې لوړې هنري سینمایي تمې لرو.

په دې نقد لیک کې د ,, تور باز,, فلم ته یوه کتنه شوې ده. که څه هم په دې فلم کې خپله سنجي ډټ بیا ځلې د یو افغان مسلمان کرکټر رول لوبوي. هغه دا هم ویلي دي، چې د ,, تور باز,, فلم د افغانانو د ژوند اصلي یو انځور دی. سنجي ډټ د خپل نوی فلم بریالیتوب ته هیله مندي هم ښودلي ده. دا فلم د افغانستان په هکله ډیر واقعیتونه لري او د افغانانو یو حقیقي انځور خلکو ته وړاندې کوي.

د تور باز فلم د هندي بالیووډ سینما د نورو سوداګریزو کلاسیکو سینمایي فلمونو سره هیڅ نه پرتله کیږي. په دې فلم کې هیڅ فلمي سندرې او ګډاګانې نشته. د هند بالیووډ سینما نامتو لوبغاړی سنجي ډټ نوی فلم د افغانستان په تړاو یو بل ډول جوړ کړل شوی فلم دی. پرته له شکه په دې فلم کې په ډیرو صحنو کې د افغاني تولنې یو خواشینونکی انځور ښودل شوي دی. ,, د تور باز ,, په فلم کې دوه ټکي خوراهم مهم دي، هغه کرېکټ د ترهګرې په وړاندې او په ځانمرګي بریدونو کې د بې ګناه معصومو ماشومانو کارول باندې راڅرخیږي. سنجي ډټ د ځانمرګي بریدونو پر ځای کډوال ماشومان د کرېکټ لوبې ته هڅوي.

د بالیووډ سینما نوی فلم په افغانستان کې د رواني جګړې رواني ناخوالې په اړه او په جګړه کې له افغان ماشومانو څخه د ناوړه ګټې اخیستلو یا ځانمرګي بریدونو کې د کارولو په هکله جوړ شوی دی.

نوموتی سنجي ډټ د تور باز په فلم کې د یوه پخواني پوځي ډاکټر په رول کې لوبیږي. هغه په دې باوري دی، چې ماشومان ترهګر نه دي، بلکې دوی د ترهګرۍ لومړني قربانیان دي. هغه هڅه کوي، څو د کرېکټ لوبې څواک له لارې د افغان بې ګناه، بې برخلیکه او د ژوند لومړنیو اسانتیاو څخه محرومه ماشومانو په ژوند کې موسکا، خوشالي او بدلون راولي.

په دې فلم کې د سنجي ډټ تر څنګ نرګس فخري او افغان هنرمند همایون شمس خان هم لوبیدلي دي. دا فلم د امنیتي لاملونو له امله د افغانستان څخه د یو څو ویډیو کلیپونو پرته نور ټول په هندوستان او قرغزستان کې ډک شوي دی. د تور باز فلم ډایرکټر ګیریش ملک دی. پروډیوسري چاړې بې راجو چډا او راهول مترا کړې دي. د فلم ثبتولو کار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د ۲۰۱۷ کال راهیسي پیل شوي دی. له پاني پت فلم وروسته په تور باز فلم کې افغان فلمي لوبغاړی ببرک اکبري له سنجی دېت سره بیا ځلي ګډ کار کړی دی.
د پاني پت په فلم کې هم سنجیي دېت مرکزي رول لوبولي و. د پاني پت فلم هم د افغانانو له تشویشونو او غبرګونونو سره مل و. د پاني پت فلم یو کال مخکې ننداري ته وړاندي شو. د پاني پت فلم د محاصر افغانستان بنسټګر او دورز د دورانو ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا په اړه جوړ شوي دی. په دغه فلم کې ډیرو افغانانو هندي فلمي ډایرکټر د افغانانو له تاریخه ناخبره وبللي و، چې د یوه ستر افغان ټولواک په هکله یې یو ناسم انځور خپور کړي دی. له همدې امله دغه فلم له زیاتو نیوکي سره مخامخ شوي، چې تاریخي واقعاتو ته په سمه توګه نه دي کتلي، د پاني پت فلم کیسه او سوژه یوازې د هند مرهټو جنګیالیو په ګټه او د دوی میړنتوب په هکله لیکلي شوي وه، خو افغان جنګیالیو ته او افغاني تاریخي ویاړي واقعیتونه او د هند له مسلمانانو سره د بهادورو افغانانو د مرستې په اړه په کې هیڅ پام نه وه شوي.

## د تورباز فلم کیسه او سوژه :



د تور باز فلم په یوه خورا عجیبو غریب او تصادفي ډول پیلیږي. یو عقاب چې د ورغمي په لټه کې دی، څنګه په مستعار ډول د فلم په سرلیک کې کاروال کیږي. له دې ورسته فلم ورو ورو په لاره اچول کیږي. تور باز فلم د یو داسې سړي کیسه ده، چې هغه د ژوند په مانا پسې کابل ته راځي.
ناصیر خان (سنجی دېت) د خپلي میرمنې او زوی له مرګه یو څو کاله ورسته زړه نا زړه د کابل په هوایي ډګر کې د یوه پخوانی پوځی ډاکټر په توګه راستون کیږي. هغه ته د یوې پخواني ملګري لخوا بلنه ورکړل شوي وه او هغه د کابل په هوایي ډګر کې د ښه راغلاست لپاره ورته ولاړه وه. ناصر خان د خپلي ملګري عایشه ( نرګیس فقیري) په بلنه راغوښتل شوي دی، څو هغه د یتیمو کډوالو لپاره یو بل روزنتون د ،، سبا امید ،، په نامه پرانیستغوندېه کې برخه واخلي. د دې روزنتون او د کډوالو سره د بشري خیریه مرستو بنسټ د ناصر خان مرحومې میرمنې لخوا ایښودلي شوي وه. هغې په کابل کې د بې وزلو یتیمو ماشومانو لپاره یوه انجیو پرانیستلي وه. له همدې امله د ناصر خان ښځه او زوی د کابل ښار په یوه بازار کې د سودا اخیستلو پرمهال په یوه ځانمرګې بمې برید کې سمدستي د پیښې په سیمه کې وژلي شوي وو. د فلم اصلي لوبغاړی نصیر خان همدغه زړه بوګنونکی ناوړه پیښه تل تعقیبوي او له امله روحاً ډیر ناارامه دی او ورته ځوریږي. هغه د کډوالو پنډغالي په څنګ کې له همدې خیریه بنسټ سره کار کوي.
ناصر خان یوه ورځ د یتیمانو روزنتون ته نږدې د کډ والو ماشومانو د پنډغالي څخه لیدنه کوي، ګوري چې تنکي ځوانان په خورا ماهرانه او مینه ناکه توګه د کرېکټ په لوبه کې بوخت دي. هغه پوهیږي، چې د ماشومانو دغه خورا بیساری استعداد یا ټلینټ د دوی راتلونکې روښانولي شي. د لوبیدونکي ماشومانو څخه دغه لیدنه د نصیر خان په فکرونو او زړه کې ستر بدولون راولي. هغه له ځانه سره پریکړه کوي، چې دا یتیم ماشومان باید یوازې پرې نښودل شي، د دې پر ځای چې معصوم ماشومان د طالبانو تر کنټرول او اغېز لاندې ستر شي، غواړي ماشومانو ته د کرېکټ لوبه په ښه توګه وروپېژني، هغه په دې هیله او تمه غواړي ماشومان یوه ښه غوره راتلونکی ته لیواله کړي، څو د ماشومانو په ژوند کې خوښي او خوشالي راولي. هغه په ډیره مینه سره ماشومان دې ته هڅوي، ناصر خان د کډوالو ماشومانو څخه د کرېکټ یو ټیم جوړوي. سنجی دېت په خپله د افغان کډوالو په یو کمپ کې د ماشومانو سره د کرېکټ لوبې کوي.
ناصر خان د همدې ماشومانو د کرېکټ لوبډلي روزونکی کیږي. په لومړی سر کې هغه په ډیره لیوالتیا سره زر زر ماشومانو ته د کرېکټ بنسټیزه روزنه ورکوي. دې نوی لوبډلي ته یو هندی روزنکی هم نیسي او د لوبو د پیاوړتیا لپاره سپورتي تجهیزات چمتو کولو پیسې ګرځي. د فلم په پیل کې هغه په کمپ کې د کرېکټ یوه دوستانه لوبه هم ترسره کوي.
دا په داسې حال کې د ناصرخان فکر د ښه نیت او ټینګې اراده څخه برخمن دی، خو په خواشینې سره هغه د یو شمېر نه اټکل کیدونکی جدي خنډونو او ستونزو سره مخامخ کیږي.
د ناصر خان ستونزه یوازې دا نه ده، چې بې وزلو ماشومانو ته د کرېکټ لوبې ګران بیه سامانونه لکه بوټونه او هیلمټونه برابر کړي. د کرېکټ لوبه هسې هم د شتمنو ځوانانو لوبه ده. دلته ځینې ماشومان پښتانه دی، ځینې هزاره ګان دي او نور ځینې د پاکستان له کډوالیو څخه تازه راستانه شوي دي. د پاکستان څخه په راغلو ډله باندې تور دی،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي تاسو ځان وژونکو بریدونو ته پر غاړه لرئ. یتیم ماشوم باز د پاکستان د کډوالی څخه تازه راغلي دی، هغه د ځایي افغانانو سره په خبرو کي لږ څه ستونزې لري.
تر ټول حیرانوکي ناسمه او له حقیقته لیری صحنه همدا ده، چي په دغه فلم کي جګړه ځپلي معصوم بي ګناه ماشومان د لوبي په خوشالیو کي نه ښودل کیږي، له څنګه چي تمه کیدله، بلکي په فلم کي د باز په نوم یو پښتون ماشوم د طالب زوی په نامه ښودل کیږي، هغه د یوه هزاره ګی معصوم ماشوم سره د لوبي پر مهال په یوه لفظی شخړه کي ښکیل ښودل کیږي، دواړه یو بل ته په سترګو کي ښه سره نه ګوري. دا ډول نورمالو لفظي شخړو ته په داسي فلمونو کي باید توکمي رنګ ورنه کړل شي. ځکه نن په افغانستان کي ځوان هزاره افغان ماشوم د ځوان پښتون افغان ماشوم سره په ګډه پر ملي او نړیوال کچ د یو افغان په نوم د سیالیو لوبي ډګر ته ورځي.
هممهاله عبدالقهار یا قازار (راهول دیو) د ترهګري ډلي مشر د پاکستان څخه د راغلو ماشومانو د موندلو په لټه کي دی. د هغو کسانو په لټه کي دي، کوم چي د امریکایي پوځیانو د یوه برید په ترڅ کي د پوځی ترینیګ یا روزني له کمپ څخه تښتیدلي دي. په دې ماشومانو کي څو تنه د طالبان تر څارني لاندي دی، طالبان دغه ماشومان د ځانمرګي بریدونو ته روزي او چمتو کوي. د همدې تښتیدلو کسانو څخه یو همدا باز دی، دغه ماشوم د کډوالو د کرېکټ لوبډله کي په ډېره مینه لوبه کوي. ناصر خان د کډوالو پنډغالی ماشومانو لوبډله د سیالی یوې مهمي لوبي ته چمتو کوي. په ټیم کي اکثرأ هغه لوبغاړي شامل دي، کوم چي د پاکستان سره د ډیورنډ کرښي په اوږدو کي د کډوالو په کمپونو کي ژوند کړي دی.
ناصر خان هڅه کوي، څو خپله روزنکي لوبډله په کابل کي د کریکټ اکاډمی کي شامله کړي، څو د اکاډمی سرروزونکی مشر زړه نا زړه دی، هغه په دې اند دی، چي دا ماشومان به یوه نه یوه ورځ یوه چاودونه ترسره کړي، چي په فلم کي همداسي وشول.
ناصیر خان د خپل ټیم په وړاندي د سیالي لپاره د کریکټ اکاډمی د شپاړلس کلنو ځوانانو لوبډله یوې لوبي ته ورننګوي. د کرېکټ دا لوبه څو سمه په بریالیتوب سره کله ترسره کیږي، کله چي درې لوبغاړي ماشومان په ناڅاپه توګه ورک یا ترینه لاړ شي.
د تور باز فلم ډایرکټر په خپل فلم کي مهمو ټکو ته هم پام شوي دی، هغه په فلم کي د افغان د کرېکټ ملي لوبډلي تاریخ د کرېکت په نړیوالو جام کي د پامور یو ستر پیاوړي ځواکمن ټیم په توګه نوموي، هغه نړیوالو ته د افغان ملي لوبډله د یو ډیر پیاوړي او هڅوونکي ټیم په توګه وریپژني. دغه موضوع د فلم یوه مهمه سکالو ده.
په ټولیزه توګه :
په دې کي هیڅ شک شوپیان نشته، چي د هند بالیووډ سینما د ,, تور باز,, فلم سکالو د یوه ستر فکر زیږنده او پایله ده. ترهګري په ټوله نړی کي خپلي ناوړه اغیزې شیندلي دی. د ترهګرو یو تکتیک دا دی، چي په هغه کي دوی په خلکو کي ډیره ویره خپروي او د ډیرو بي ګناه خلکو ویني تویيوي، هغه ځانمرګي بریدونه دي. دا هغه موضوع ده، چي د بالیووډ په فلمونو کي هیڅکله نه ده لیدلي شوي. په جنګ جګړو کي رالوی شوي ماشومان د نړۍ تر ټولو خوږمن ځوریدلي او کړیدلي انسانان دي.
د تور باز فلم پرته له شکه په یو ښه نیت او ښه اراده کي جوړ شوي دی، په دې فلم کي داسي محسوس کیږي، چي په جګړو کي را لوی او ځوړول شویو ماشومانو ته پلارنی مینه ورکول کیږي، دا هغه ماشومان دي، چي پلارنی مینې ته د درملني په توګه سخته اړتیا لري، ایا په دې فلم کي دغه بي وزلي کډوال ماشومان د پلرنی میني له درملني سره مخ شول؟ یوه اړینه یادونه، چي د تور باز په فلم کي خپله لوبغاړی ماشومان تر ټولو ډیر ښه لوبیدلي دي.
لنډه دا چي په دغه فلم کي د افغانانو ژوند هغسي نه دی ښودل شوي او نه سم انځور شوي دی، لکه څنګه چي پکار وه. د تور باز فلم په افغانستان کي د رواني جګړې او په دغه جګړه کي له ماشومانو څخه د ناوړه ګټي اخیستلو په اړه جوړ شوی دی.
سنجی ډټ د افغان کډوالو په یو کمپ کي د ماشومانو سره خپله د کریکټ لوبي کوي. هغه دا هڅه کوي، څو د کرېکټ له لارې افغان ماشومان د ترهګری نه په ډاډمنه توګه وساتي او ماشومان سالمو سپورتي فعالیتونو ته وهڅوي.
په دغه فلم کي ولن راهول د یوې ترهګریزې ډلي مشر رول لوبوي، په یوه صحنه کي هڅه کوي، څو افغان ماشومان ځانمرګي بریدونو ته تشویق کړي. هغه په فلم کي بیا په دې باور دی، چي هغه ماشومان چي په دې ترهګریزه ډلي کي له دوئ سره دي، په ځانمرګو بریدونو کي ترینه کار اخلي.
نرګس فخري هم په دې فلم کي د ښځینه رول اصلي لوبغاړي ده، هغه د یوې افغاني مېرمني په توګه فلم کي لیدل کیږي او په دغه خیریه بنسټ دنده ترسره کوي، هغه د کډوالو ماشومانو پالنه کوي او د ښه ژوند په برابرولو کي ورسره مرستي کوي. نرګس فخري په فلم کي د یوې افغاني لوستي مېرمني په توګه لوبیږي. په فلم کي د هغې رول د فلم وخت بي ځایه ضایعه شوي دی. سنجي ډټ ښه او ښه نه دی لوبیدلي. راهول میترا د ډګروال جنید رول لوبوي، خو د هغه فعالیت ښه نه دی. د ویکرم مونټروز میوزیک اصلا سم کار نه کوي. دا فلم پرته له سندرو د هند د بالیووډ سینما یو هنري فلم دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

کله چې ما دغه فلم لیدلو، نو ما داسی احساسکولو، چې زه د ټلویزیون په دیسکوري چینل کې کوم ډاکومنټري راپورتاژي فلم ګورم. د تور بار فلم اصلاً هنري فلم نه دی، دا د افغانانو د ژورو روحیي ټپونو، د جګړه ځپلي افغانستان د جګړې یو مستند فلم دی. څنګه کرېکټ د جګړه ځپلي افغانستان د ژغورلي لامل ګرځیدلي شي او څنګه طالبان د جهاد په نامه بی ګناه ماشومان او د دوی بې وزله کورنې په روزل شویو ځان وژونکو بریدګرو باندې بدلوي؟. په ټولیزه توګه د ګریش ملک او بهارتي جاکار د فلم کیسه ډیره کمزوری، بې کاره او بې خونده لیکلي شوي ده. ځکه د دې فلم ډیرې لړ صحنې پر کټونکو باندې اغیزمن اغیز پرېږدي. دغه دوه ساعته او دیرش دقیقي فلم ډیر اوږد فلم دی. د فلم په ډیرو صحنو کې ډیالوګونه یا خبرې اترې څه ځانګړې ځانګړتیاوې نه لري. د فلم په داستان او په صحنو کې ناڅاپه خبرې او تورې بدلیږي، همدلته فلم په یوه مستند ټلویزیوني فلم باندې بدلیږي. خپله د کرېکټ لوبې صحنې په هیڅ ډول د شور، ولولو، شوق او د احساساتو اغیزمنتوب اغېز نه لري. فلم اخیستونکی هیروکسوانی ښکلې فلمبرداري کړې ده، هغه یوازې د قرغزستان ښکلې منظرې رانیولي دي، خو دا د یو ښه فلم لپاره کافیت نه کوي.

په لنډو ټکو کې بیا لیکم، د تور باز فلم په یو ډیر ښه فکر باندې ولاړ دی، انګیره لوړه ده او د نن ورځې یوه ډیره مهمه کیسه بیانوی، خو د تخنیکې او سوژې له اړخه په یوه ناسمه لار تللي فلم دی. د فلم تخنیک، د فلم سناریو، د فلم سوژه او لوری ډیر کمزوری، خراب، ستړې کوونکی او مایوسه کونکی جوړ شوي دی. دغه فلم له پینځو ستورو څخه ایله دوه ستوري اخیستلي شي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ